افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| Social | اجتماعی |
|---|---|

انجمن اجتماعی زحمتکشان افغانستان
مسعود
۱۵ جون ۲۰۱۳

# د سرپناه درلودل، نه ترلاسه کېدونکی خوب

د افغانستان د څو لسیزو جګړې خلک دې ته اړ کړل چې کډوالۍ ته مخه کړي او خپل کورونه پرېږدي، خو هیواد ته له راستنیدو وروسته د کرزي د دولت په موده کې ورو ورو د کورونو او ځمکو بیه په بې ساري توګه لوړه شوه. دې ګرانوالي له خلکو څخه د کور درلودلو خوب وتښتوه، په تېره بیا له زیارکښانو څخه، ځکه چې یوازې ځمکې نه بلکې د نورو رغنیزو توکو بیه هم لوړه شوه.

هېواد ته د کډوالو د بیرته نه ستنېدلو یو مهم لامل همدا د سرپناه او کور نه درلودل دي. دولت هم چې د شتمنو او پانګه والو دولت دی، په هیڅ ډول بیوزلو او زیارکښانو ته سرپناه نه چمتو کوي، ځکه ورته کومه ګټه نه لري.

بیوزلي او زیارکښان کورونه نه لري، ځینې يې چې لري، د هغوی کورونه ختین دي او زیاتره یې د غرو په لمنو کې میشت شوي دي. د هېواد دننه هم ډېر کډوال شته چې د جګړو له امله بېځایه شوي دي، او په خیمو کې ژوند کوي. هغوی په داسې حال کې په خیمو کې ژوند کوي چې هلته هم د چارواکو لخوا ځورول کیږي. د بیلګې په ډول د مزار شریف ښار د تصدیو په کاماز کمپ کې هغه کورنۍ بېځایه شوي چې د چارواکو لخوا ورته د ځای پرېښودلو خبرداری ورکړل شوی. دغه کډوال وايي چې دوی کابل کې خپل کورونه د جګړو پرمهال پرېښي دي او دلته راغلي دي، دغه بېځایه شوي کورنۍ د ژوندانه هیڅ آسانتیا نه لري. دوی ټول د برښنا او اوبو له نشتوالي، بیکارۍ او بیوزلۍ سره مخ دي، خو سره له دې هم له دې ځایه په زور ایستل کیږي.

د ځمکو غاصبین هره ورځ په زرګونو جریبه ځمکه غصبوي او په کې سوداګریزې او شخصي ودانۍ جوړوي. د دولت زیاتره لوړ پوړي چارواکي په دغه غصب کې لاس لري، خو څوک ورته څه ویلی نشي. دغه لوړپوړي چارواکي د مافیا په بڼه، د دولتي او شخصي ودانیو د جوړولو په موخه د خلکو کورونه ویجاړوي او یا هم خپلې مانۍ آبادوي.

زیارکښان د دې ټولنې تر ټولو بیوزلي وګړي دي چې له هرې خوا وربانديې زورزیاتی کیږي. تر هغو چې زیارکښان په خپله د خپل حق لپاره غږ پورته نکړي، هیڅ دولتي او نادولتي چارواکی به ورته د هغوی حق ورنکړي.